# Over verview of Early Intervention Dispute Resolution Processes for Families of Infants & Toddlers (Birth to Age 3)

# (د ماشومانو (هغه ماشومان چې د مور شيدې خوري) او نوی تکه زده کونکو کوچنيانو د کورنيو لپاره د ابتدايي مداخلې د شخړو د حل پروسو ته کتنه (د زيږون څخه تر 3 کلنۍ عمر پورې))

* په ځانګړي تعليم/زده کړې کې د مناسبو شخړو د حل لپاره د مرکز څخه د ***Washington*** ايالت لپاره تطابق شوی



CADRE (2018). CADRE د ماشومانو او کوچنيانو د والدينو لپاره د ابتدايي مداخلې د شخړو د حل پروسې ګړندی لارښود (د زيږون څخه تر 2 کلنۍ پورې)، Eugene, Oregon, CADRE. د خپرولو/نشرولو نېټه: سپتمبر 2018.

| Processes (پروسې) | Mediation (منځګړيتوب) | Administrative Complaint (د اداري شکايت) | Due Process Hearing (د لازمي/مناسبې پروسې اوريدنه) |
|---|---|---|---|
| پروسې څنګه توپير لري | يوه داوطلبانه پروسه چې خلک د يو بې طرفه/بې تعصبه، وړ او روزل شوي منځګړی سره يوځای کوي، څوک چې د دوی سره د يو بل سره په خبرو اترو، انديښنې څرګندولو، او د اختلافاتو حل کولو کې مرسته کوي. | يوه ليکلي غوښتنه چې د خبرو اترو لپاره کارول کيږي چې د خدمت برابرونکي، برابرونکي ادارې/اژانسي، د ايالت مشري اداره، يا نورې عامه ادارې د IDEA برخه C نه ده تعقيب کړې، او د ايالت لخوا د حل غوښتنه کول. | يوه پروسه چې د والدين لخوا ثبت شوي شکايت حل کولو لپاره کارول کيږي. |
| کومې مسلې او کله کارول کيږي | هرکله کارول کيږي چې د والدينو او برابرونکي ادارې يا خدمت برابرونکي ترمينځ د IDEA برخې C لاندې خدمتونو چمتو کولو پورې اړوند اختلاف شتون ولري. دا هر وخت غوښتنه کيدی شي، پشمول مخکې، يا کله چې د مناسبې پروسې اوريدنې غوښتنه، يا اداري شکايت درج/ثبت شوی وي. | کارول کيږي کله چې د دې په اړه پوښتنه وي چې ايا د IDEA مقرراتو برخه C د ځانګړي ماشوم (هغه ماشوم چې د مور شيدې خوري)/کوچني ماشوم او د دوی کورنۍ يا د ايالت په کچه د سيستم مسلو په اړه تعقيب شوي. | د ماشوم (هغه ماشوم چې د مور شيدې خوري) يا کوچني د پيژندنې، ارزونې، يا ځای په ځای کولو پورې اړوند اختلافات حل کولو، يا د ماشوم يا کوچني او د هغه ماشوم کورنۍ ته د ابتدايي مداخلې خدمتونو ورکولو لپاره کارول کيږي. |
| څوک پيل کوي | د کورنۍ غړی، د خدمت برابرونکي، برابرونکي اداره/آژانسي او/يا عامه اداره/آژانسي د منځګړيتوب غوښتنه کولی شي. برخه اخيستنه د ټولو اړخونو لپاره داوطلبانه ده. | هر تن يا سازمان، حتی يو له بل ايالت څخه، د اداري شکايت ثبت/درج کولی شي. | يوازې والدين د مناسبې پروسې اوريدنې غوښتنه درج کولی شي. |
| پايله يا مطلوبه نتيجه | يو لاسليک شوی، په قانوني توګه د تطبيق وړ، ليکل شوی تړون/موافقه. | يوه ليکلي پريکړه چې موندنې او پايلې پکې شاملې دي، او د اخرنۍ پريکړې لپاره دليلونه ليست کوي. که چيرې داسې موندنه وي چې د IDEA برخه C نه وه تعقيب شوې، په راپور کې بايد اصالحي اقدامات/کړنې هم شامل وي چې د شکايت اړوند د ماشوم (هغه ماشوم چې د مور شيدې خوري)/کوچنيانو او کورنۍ اړتياوو ته رسيدو لپاره اړين وي. | د حقايقو او پريکړو ليکل شوي موندنې. پريکړه کيدای شي د ځانګړو اقداماتو اخيستلو امر وکړي. |

| Processes (پروسې) | Mediation (منځګړیتوب) | Administrative Complaint (د اداري شکایت) | Due Process Hearing (د لازمي/مناسبې پروسې اوریدنه) |
|---|---|---|---|
| د پروسې توپیرونه | د منځګړیتوب بحثونه محرم دي او د لازمي/مناسبې پروسې اوریدنه یا مدني دعوه کې د منلو وړ ندي.<br><br>منځګړیتوب یوه انعطاف منونکې پروسه ده – ګډونوال ممکن په پروسه اغیزه کولی شي او په پای کې پایله ټاکلی/معلومولی شي.<br><br>منځګړی پریکړې نه کوي. ټول ګډونوال باید په منځګړیتوب شوی تړون/موافقه کې هرې پریکړې سره موافق وي. | دا د شخړو د حل یوازینۍ اختیار دی چې د هر کس/تن یا سازمان لپاره خلاص/کولاو دی، په شمول هغه کسان چې د ماشوم سره تړاو نلري.<br><br>په وروستۍ/اخرنۍ پریکړه کې ممکن اصلاحي اقدامات/کړنې شاملې وي چې د ماشوم لپاره ځانګړي وي یا د سیستم په کچه مسلو پورې اړه لري.<br><br>شکایت کوونکی به د دې فرصت ولري چې د اندیښنو په اړه اضافي معلومات چمتو/برابر کړي. دا معلومات په شفاهي یا لیکلي ډول چمتو/وړاندې کیدی شي. | والدین حق لري چې د اوریدنې لیکلی یا الکترونیکي لفظي/ټکی په ټکی نقل (ډك شوی ریکاټ) ترلاسه کړي، والدینو ته پرته له هیڅ لګښت.<br><br>د اوریدنې افسر پریکړه په ایالتي یا فدرالي محکمه کې د استیناف وړ ده. |
| ګټې | بحثونه محرم دي - هغه څه چې په منځګړیتوب کې ویل کیږي د مناسبې پروسې اوریدنه یا مدني دعوی کې د شواهدو په توګه نشي کارول کیدی.<br><br>منځګړیتوب د لیکل شوي ایالتي شکایتونو یا د مناسبې پروسې اوریدنې لپاره ډیر انعطاف وړ، لږ مخالف بدیل وړاندې کوي.<br><br>ځینې وختونه ګډونوال د پروسې ډیزاین کولو لپاره د منځګړی سره کار کوي. په ځینو موارډو کې، ګډونوالو ته اجازه ورکول کیدی شي چې منځګړی په ګډه/یوځای وټاکي.<br><br>منځګړیتوب ممکن د لیکل شوي ایالتي شکایتونو یا د لازمي/مناسبې پروسې اوریدنې په پرتله د اختلافونو په چټک حل کې مرسته کولی شي. | لیکلي پریکړه باید د شکایت ترلاسه کولو وروسته د **60 تقویم** ورځو څخه مخکې صادره شي، پرته لدې چې د ځانګړي شکایت په اړه د استثنایی حالاتو له امله مهال ویش تمدید شي.<br><br>د اداري شکایت ثبتول/درج کول نسبتا اسان دي. | د دې فرصت برابروي چې یو بې طرفه دریم اړخ ولري چې د هغو مسلو په اړه پریکړه وکړي چې اړخونه یې پخپله نشي حل کولی.<br><br>له هغې نیټې څخه چې د لازمي/مناسبې پروسې شکایت درج کیږي تر هغه پورې چې پریکړه نهایی کیږي، پرته لدې چې برابرونکي/مخکښ اداره او والدین په بل ډول موافق وي، ماشوم باید په IFSP کې په ګوته شوي ترتیب کې د مناسب لومړني مداخلې خدمتونو ترلاسه کولو ته دوام ورکړي چې د والدینو لخوا رضایت لري.<br><br>که چیرې په لازمي/مناسبې پروسې شکایت کې د C برخې لاندې د ابتدایي خدمتونو لپاره غوښتنلیک شامل وي، ماشوم باید هغه خدمتونه ترلاسه کړي چې په شخړه کې نه وي.<br><br>پرته لدې چې استیناف/اپیل شوی وي، د اوریدنې افسر پریکړه په قانوني توګه د برابرونکي/ایالتي مشري ادارې او والدینو پورې تړلې ده. |



| Processes<br>(پروسې) | Mediation<br>(منځګړیتوب) | Written State Complaint<br>(د ایالت لیکل شوی شکایت) | Due Process Hearing Request<br>(د لازمي/مناسبې پروسې اوریدنې غوښتنه) |
|---|---|---|---|
| غورونه | منځګړیتوب داوطلبانه دی، نو د کورنۍ غړی، د EIS برابرونکي، مخکښ اداره او/یا عامه اداره باید د ګډون لپاره موافقه وکړي.<br><br>ایا د مسلو حل شتون لري، یا یو تړون رامینځته کیږي، په ګډونوالو/برخه اخیستونکو پورې اړه لري.<br><br>پیچلي حالتونه ممکن موافقې ته د رسیدو لپاره ډیرې منځګړیتوب ناستو/غونډو ته اړتیا لرلی شي.<br><br>هیڅ تضمین شتون نلري چې لیکلي تړون/موافقه به رامینځته شي. | هغه کس یا سازمان چې شکایت ثبتوي/درج کوي باید حقایق چمتو کړي ترڅو د دې اندیښنې ملاتړ وکړي چې IDEA نه وه تعقیب شوی. یو لیکلي ایالتي شکایت باید لاسلیک شي. **یادونه**: درېیم اړخ ته د شخصي پېژندلو وړ معلوماتو خپرولو لپاره د والدین اجازې ته اړتیا ده.<br><br>دا پروسه هغه کسانو ته اړتیا نلري چې په ګډه سره د شخړې حل کولو هڅه کې ښکیل وي. په هرصورت، منځګړیتوب په هر وخت کې شتون لري.<br><br>IDEA ایالتونو ته اړتیا نلري چې د لیکلي پریکړې لپاره د استیناف/اپیل پروسې وړاندیز وکړي. که چیرې د استیناف/اپیل اجازه ورکړل شي، د وروستۍ پریکړې لپاره د 60-تقویم ورځې مهال ویش لاهم په عمل کې دی. د هغه اختیارونو لپاره د خپل ایالتي مشرې ادارې سره وګورئ/چک کړئ چې ممکن شتون لري. | پریکړه د اوریدنې افسر لخوا کیږي څوک چې:<br>• د مشرتابه آژانس کارمند یا د لومړنی مداخلې خدمت برابرونکي نه وی چې د ابتدایي مداخلې خدمتونو چمتو کولو یا د ماشوم پالنه کې دخیل وي؛<br>• شخصي یا مسلکي دلچسپی نه لري چې د پروسې په پلي کولو کې د هغه یا د هغې هدف سره ټکر وکړي.<br><br>که چیرې د اوریدنې افسر په پریکړه د استیناف/اپیل غوښتنه وشي، دا پریکړه کیدای شي تر هغه پورې ترسره نشي تر څو چې استیناف/اپیل نه وي شوی.<br><br>مخکښ اداره/مشرتابه آژانس کیدای شي د وکیل/څارنوال لخوا استازیتوب شي. که چیرې والدین یو وکیل/څارنوال استخدام کړي، دا د والدینو په لګښت دی. |
| پریکړه کونکی | برخه اخیستونکي/ګډونوال، د ماشوم (هغه ماشوم چې د مور شیدې خوري)/کوچنې والدینو په شمول، په ګډه د حلونو په اړه کار کوي او د پایلو په کنټرول کې دي. | ایالت مسؤل دی د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه کړي چې شکایت حل شوی، او د شکایت په اړه خپلواکه پریکړه کیږي. | د ماشوم (هغه ماشوم چې د مور شیدې خوري) یا کوچنې د پیژندنې، ارزونې، یا ځای په ځای کولو پورې اړوند اختلافات حل کولو، یا د ماشوم یا کوچنې او د هغه ماشوم کورنۍ ته د ابتدایي مداخلې خدمتونو ورکولو لپاره کارول کیږي. |
| د دریمي ډلې/اړخ رول | یو **منځګړی** په عموم ډول:<br>• د ګډون کونکو/برخه اخیستونکو سره مرسته کوي چې د غونډې لپاره اساسي قواعد/قانونونه جوړ/رامینځته کړي.<br>• یو خوندي چاپیریال رامینځته کوي او ګډون کونکي/برخه اخیستونکي هڅوي چې د نورو نظرونو درناوی وکړي.<br>• د اوریدلو، د دلچسپیانو پیژندلو، او د اندیښنو په روښانه کولو سره د بحثونو لارښوونه کوي.<br>• پریکړې نه کوي.<br>• د ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو پورې اړوند قوانینو پوهه لري. | د **شکایت پلټونکی/تحقیق کوونکی**:<br>• د شکایت اړوند معلومات بیاکتنه کوي.<br>• کیدای شي د شکایت اړوند خلکو سره مرکه یا لیدنه وکړي.<br>• د تطبیق شوي قانون پر اساس موندنې او پریکړه/تصمیم کوي. | د **اوریدنې افسر**:<br>• د اوریدنې مهال ویش نظارت کوي، په شمول د اوریدنې دمخه ټول فعالیتونه.<br>• اوریدنه ترسره کوي او پروسیجرې/کړنلارې مسلې اداره کوي.<br>• د شهادت او نورو شواهدو پراساس چې په اوریدنه کې معرفي شوي د پریکړې لیکلو لپاره د تطبیق شوي قانون څخه کار اخلي.<br>• کیدای شي د لازمي/مناسب پروسې شکایت (د اوریدنې غوښتنه) رد کړي که چیرې مسلې د اوریدنې دمخه حل شي. |
| د وخت موده | هیڅ مهال ویش ندی مشخص شوی. اړینه ده چې په وخت سره مهال ویش شي.<br>• منځګړیتوب کیدای شي د یوې لازمي/مناسبې پروسې اوریدنې ته د یوې کورنۍ د حق څخه د انکار یا ځنډولو، یا د IDEA د C برخې لاندې د نورو حقونو څخه انکار لپاره ونه کارول شي. | د IDEA لاندې، لیکلي ایالتي شکایتونه باید د نیټې څخه د یو کال په موده کې ثبت/درج شي کله چې فرد د ستونزې په اړه پوهیدلی یا باید پوه شوی وي.<br>• لیکلي پریکړه باید د شکایت د ثبت/درج کولو نیټې څخه وروسته د **60 تقویم** ورځو څخه مخکې صادره شي، پرته لدې چې مهال ویش په استثنایي حالاتو کې وغځول شي یا که اړخونه د منځګړیتوب په پروسه کې د ښکیلتیا لپاره د مهال ویش تمدیدولو موافقه وکړي. | IDEA د ثبت/درج کولو لپاره د وخت محدودیت نه مشخص کوي. دا مهمه ده چې په وخت سره فایل/درج کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د ماشوم خدمتونو په اړه ستاسو اندیښنې په سمدستي توګه حل کیږي.<br>• اوریدنه باید بشپړه شي، او د اوریدنې پریکړه په **30 تقویم** ورځو کې دننه صادره شوه، له هغې نیټې څخه چې د لازمي/مناسبې پروسې شکایت ترلاسه شوی و. |

| Processes<br>(پروسې) | Mediation<br>(منځګړيتوب) | Written State Complaint<br>(د ايالت ليکل شوی شکايت) | Due Process Hearing Request<br>(د لازمي/مناسبې پروسې اوريدني غوښتنه) |
|---|---|---|---|
| مالي لګښت/خوړک تاديه کوي | کورنۍ ته هيڅ لګښت نشته. منځګړی او اسانتياوې په عامه لګښت چمتو کېږي. | کورنۍ ته هيڅ لګښت نشته. پلټنه/څېړنه ترسره کېږي، او پريکړه په عامه لګښت چمتو کېږي. | اوريدنه، د اوريدنې افسر، اسانتياوې، او پريکړه بايد والدينو ته پرته له هيڅ لګښت وي.<br><br>هر اړخ خپل لګښتونه تاديه کوي، چې کېدای شي د څارنوال فيسونه او د شاهد فيسونه پکې شامل وي. |
| په اړيکو باندې اغيزه | يو منځګړی د ګډون کوونکو/برخه اخيستونکو سره د ستونزې په اغيزمنه توګه حل کولو کې مرسته کولی شي.<br><br>غوره اړيکه/ارتباط او ښې اړيکې اکثرا د منځګړيتوبونو پايله ده. | دا پروسه په اړيکو تمرکز نه کوي. | لازمي/مناسب پروسه د شخړو د حل تر ټولو مخالفه پروسه ګڼل کېږي. |
| څنګه تياری وکړو<br><br>اضافي سرچينې د CADRE په ويب پاڼه کې شتون لري<br><br>**www.<br>cadreworks.org** | دا ممکن ګټور/مرستندويه وي:<br>• د هغو مسلو ليست جوړ کړئ چې تاسو يې بحث کول غواړئ او هغه پوښتنې چې تاسو يې پوښتنه کول غواړئ.<br>• د هغه څه په اړه فکر وکړئ چې ستاسو د ماشوم او کورنۍ اړتياو لپاره خورا مهم دي.<br>• اوريدلو ته ليواله اوسئ او د نورو نظرونو او همدارنګه ممکنه حلونو ته په دقت سره پام وکړئ.<br>• اسناد تنظيم کړئ، نېټې او يادښتونه په دوی باندې واچوئ، او د شريکولو لپاره اضافي کاپيانې/نقلونه راوړئ.<br>• داسې مواد راوړئ چې نورو ته تشريح کولو يا خبرولو کې مرستندويه وي.<br>• د دې په اړه فکر وکړئ چې تاسو د غونډې په جريان کې د احساساتو سره څنګه پلان کوئ.<br>• د غونډې څخه لږ څه مخکې راشئ، نو تاسو وخت لرئ چې ګډون کولوته چمتو/تيار شئ. | هغه کس چې شکايت ثبتوي/درج کوي بايد:<br>• ټول اړين معلومات پکې شامل کړي ترڅو د دې ادعا ملاتړ وکړي چې د شکايت ثبتولو/درج کولو پرمهال IDEA نه وه تعقيب شوې.<br>• په عين وخت کې چې شکايت د ايالت سره ثبت شوی وي، شکايت کوونکی بايد د شکايت يوه کاپي د EIS برابرونکي، د دولت مشرتابه آژانسي/اداري يا هغه ادارې ته ورکړي چې شکايت يې خلاف وي.<br>• د شکايت په اړه د نورو معلوماتو لپاره په وخت سره ټولو غوښتنو ته ځواب ووايي.<br><br>دا ممکن مرستندويه وي چې د ماشوم ټول ريکارډونه او نور اسناد تنظيم کړئ او د ښودلو لپاره چمتو/تيار اوسئ چې دا معلومات څنګه ښيي چې ادارې اړتياوې نه دي تعقيب کړي. | د قضيې د وړاندې کولو لپاره د پام وړ/کافي تيارۍ ته اړتيا ده.<br><br>اړخونه بايد د اوريدنې لپاره لاندې کار کولو ته چمتو/تيار وي:<br>• شواهد راټولول او سپارل<br>• د شهادت، د شاهدانو ليستونه، او د اوريدلو نور اسناد تيار کړئ<br>• د شاهدانو څخه پوښتنې او تفتيش<br><br>اړخونه انتخابوي چې ايا د وکيل سره مشوره وکړي يا استخدام کړي يا نه. يو کس خوک چې د وکيل لخوا نه استازيتوب کيږي کيدای شي د "پرو سی" په توګه راجع شي. دا يو لاتيني اصطلاح ده چې پدې معنی ده چې کس يا کسه په قانوني عمل کې د ځان استازيتوب کوي. |

CADRE دا سند U.S. Department of Education (د متحده ايالاتو د ښوونې/پوهنې څانګې) Office of Special Education Programs (د ځانګړو زده کړو د پروګرامونو دفتر) د کوپراتيف تړون نمبر H326X130001 لاندې توليد کړی. Tina Diamond، Ph.D، د پروژې افسر په توګه دنده ترسره کوله. هغه نظرونه چې دلته څرګند شوي په لازمي ډول U.S. Department of Education (د متحده ايالاتو د ښوونې/پوهنې څانګې) د دريځونو يا پاليسيو استازيتوب نه کوي. په دې خپرونه کې ذکر شوي کوم محصول، اجناسو، خدمت، يا تصدۍ U.S. Department of Education (د متحده ايالاتو د ښوونې/پوهنې څانګې) لخوا هيڅ رسمي تاييد نه دی شوی يا بايد اټکل شي. دا محصول عامه ډومين دی. اجازه ورکول کيږي چې دا په بشپړ يا برخه کې بيا توليد کړي. پداسې حال کې چې د دې خپرونې د بيا چاپولو اجازه اړينه نه ده، حواله بايد وي: CADRE (2018). CADRE د ماشومانو او کوچنيانو د والدينو لپاره د ابتدايي مداخلې د شخړو د حل پروسې ګړندی لارښود (د زيږون څخه تر 2 کلنۍ پورې)، Eugene, Oregon, CADRE. د خپرولو/نشرولو نېټه: سپتمبر 2018.

**د دې عمومي کتنې موخه د IDEA برخې C پروسيجري محافظتونه يا د فدرالي يا ايالتي قانون اړتياوې تشريح، تعديل، يا بدلول نه ده.**

**په ځانګړي زده کړو/تعليم کې د مناسبو شخړو د حل لپاره مرکز:**

**(541) 359-4210** **cadre@directionservice.org** **www.cadreworks.org**

*DCYF* تبعيض نه کوي او د نژاد، رنګ، جندر، مذهب، عقيدې، ازدواجي حالت، ملي اصل، تابعيت يا مهاجرت حالت، عمر، جنسي تمايل يا جنسيت هويت، تجربه کار يا پوځي حالت، د مور د شيدو ورکولو مور په توګه دريځ، او د هر ډول فزيکي، حسي، يا رواني معلوليت شتون يا د سپي لارښود يا خدمت څارويو په پام کې نيولو پرته د ټولو خلکو لپاره خپلو پروګرامونو او خدمتونو ته مساوي لاسرسی چمتو کوي. که چېرې تاسو د دې خپرونې وړيا کاپيانو په بديل بڼه يا ژبه کې لرل غواړئ، نو مهرباني وکړئ د *DCYF* اساسي اړيکو سره په *1-800-723-4831* شميره يا بريښناليک له لارې اړيکه ونيسئ ***communications@dcyf.wa.gov*** .